# د افغانستان اسلامی امارت
## د کورنیو چارو وزارت
### د تامیناتی چارو معینیت

بسم الله الرحمن الرحيم

# د تامیناتی چارو معینیت



# د لوژستیک لوی ریاست کړنلاره



ځمکني او هوائی انتقالات



د تیلو اکمال او ویش



د وسایطو ویش



د وسایطو او وسلو ترمیم



د اعاشې اکمال او ویش



د البسې او اباطی اکمال او ویش



د وسلې او مهماتو اکمال او ویش

# د لوژستیک لوی ریاست مهمې دندې

- د لوژستيکي توکو اړتيا پوره کول لکه وسلې ، مهمات ، مختلف وسايط ، فرنيچر ، اعاشه و اباطه ، روغنيات ، سون توکي ، د ملی پوليسو لپاره اړين  توکی برابرول.
- د نورم سره سم د لوژستيکي او تخنيکي توکو توزيع ، د ملي پوليسو قطعاتواو جزوتامونو ته د تشکيل  له مخې حقوق سپارل.
- د لوژستيکي توکو محاسبه ، مصرف او استهلاک په (کور ای ام اس) سيستم او د املاکو کتاب کې  د توکو ثبتول.
- د انتقالاتو لوا له لارې د لوژستيکي توکو ، مهماتو ، وسلو او تجهيزاتو ليږدول. د حمايوی لوژستيک قوماندانی ، د حمايوی کنډکونو او د دفاع محترم وزارت نظامي هوايی ترانسپورت له لارې ولايتي جزوتامونو، قطعاتو او د 7 زونونو حمايوی کنډکونو ته انتقالات کوی.
- په مرکزي ورکشاپ ، ولاياتی حمايوی کنډکونواو د ترميم سايټونو کې د پوليسو مختلف ډوله وسلو او وسايطو ترميم.

# د روغتیا لوی ریاست کړنلاره



روغتیای مشورې



سرتر پښنو درملنه




د واکسین تطبیق



د درملو چمتو کول او
توزیع کول




د ټپیانو او شهیدانو ته په
وخت رسیدگی



په داخل د بستر کې
درملنه

# د روغتیا لوی ریاست مهمې دندې

- د کورنیو چارو وزارت د ټولو زخمیانو او ناروغانو، د مجاهدینو د محترمو کورنیو غړو او نورو مستحقینو ته د معیاري روغتیایی خدمتونو برابرول .
- د کورنیو چارو وزارت د دفاعي او امنیتي ځواکونو د ملي روغتیا پالیسي له مخې د مجاهدینو اودکورنیو د غړو درملنه .
- د پالیسیو جوړول او د روغتیایی پروګرامونو تطبیق او څارنه.
- د کورنیو چارو وزارت روغتیایی مرکزونو ، قطعاتو او جزوتامونو ته په وخت سره اکمالات.
- د روغتیایی پرسونل مسلکي ظرفیت لوړول.
- په مرکز او ولایاتو کې د روغتیایي خدمتونو پراختیا.

# د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ لوی ریاست کړنلاره



د قطعاتو مخابراتي او انټرنیټ
اتصال چمتو کول
د ډیټا سینټرونو او ډیټابیسونو
رامینځته کول
د شبکې مدیریت او پراختیا



د امنیتي کمرو نصب
،ترمیم او اکمال



د کمپیوټری تجهیزاتو
اکمال او ساتنه



د مخابراتي تجهیزاتو ،
اکمال او ساتنه

# د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ لوی ریاست مهمی دندې

- د کورنیو چارو وزارت رهبري د پالیسیو ، ستراتیژیو او لارښوونو سره سم د مخابراتو او معلوماتي تیکنالوژۍ په برخه کې د پراختیایی پلانونو تنظیمول ، د ټولو برخو او فرعي برخو لپاره د تخنیکي او ارتباطي تجهیزاتو د اکمال او تجهیز لپاره زمینه برابرول.
- د کورنیو چارو وزارت د نوي تیکنالوژۍ سیستمونو رامینځته کیدو ته لاره هوارولو لپاره د نړیوالو تمویلونکو(دوست هیوادونه) او کورنیو بنسټونو ملاتړ او تخنیکي همکاري راجلبول.
- د ملي دفاع وزارت او د استخباراتو لوی ریاست سره د موجوده پروسیجرونو او پالیسیو سره سم د اړیکو همغږی کول، په ځانګړي توګه تاکتیکي او ستراتیژیکو قضیو کې د مخابراتو وزارت سره همغږي کول ترڅو تخنیکي ملاتړ راجلب او د نوي تیکنالوژي لپاره زمینه چمتوشی.
- د کورنیو چارو وزارت په جوزو تامونو کې د مخابراتی اړیکو محرمیت پروسې کنټرول.
- د کورنیو چارو وزارت په ټولو جزوتامونو کې د تیکنالوژۍ په برخه کې د شکایتونو اداره کول.

# د مالی او بودجی لوی ریاست کړنلاره



د معاشونو ورکړه
د شهیدانو د حقوقو او امتیازاتو تادیه
د کرایې او سفرونو تادیه
د اوپراتیفی پیسو مدیریت
د لوژستیکی ، تعمیراتی، مخابراتی ،
روغتیایی حوالو اجرا کول



د هیواد مالي قوانینو سره سم د
حساب ورکولو عصري میتودونو
په کارولو سره د مالي شفافیت
تضمینول





د بودیجوی جزوتامنو سره مشوره کول
او د اړتیا پراساس کلنی بودیجه ترتیبول

# د ماليې او بوديجې لوی رياست مهمې دندې

- د ماليې او بوديجې رياست د لومړۍ درجې واحد په توګه د کورنيو چارو وزارت د ټولو مالي او بودجوي چارو پرمخ بيولو دنده پر غاړه لري.
- د مالی او بودجې عمومي رياست مکلف دی چې د وزارت د ټولو کارکوونکو معاشونه، امتيازات او لګښتونه په وخت سره ورکړي او همدارنګه د کورنيو چارو وزارت او د ټول هيواد په کچه د بوديجيوی جزوتامنو ټول مالي او بوديجوی کنټرول څارنه وکړی.
- د کورنيو چارو وزارت د کلنۍ بوديجه ترتيب او د دفاع په موخه يې د راتلونکو ګامونو لپاره د ماليې محترم وزارت ته استول.
- د کلنۍ بودجې له تصويب وروسته د دغه وزارت د پلان ترتيب، د بودجې ويش، د بودجې اجرا، تصميم نيول او د بوديجې کنټرول.
- په پلازمينه او ولاياتو کې د مصرف کونکو لخوا د عادي او پراختيايي بوديجې لګښتونو ته بياکتنه او ارزونه.
- د کورنيو چارو وزارت د عوايدو راټولول.
- د کال په اوږدو کې د تصويب شوې بوديجې مديريت او د بوديجې کسر د وزارت او ماليې وزارت له چارواکو سره همغږي.

# د تعمیراتو لوی ریاست کړنلاره



د جنراتورونو ساتنه او څارنه



د ښاری بریښنا سره د
تاسیساتو نښلول



د شته ودانیو ساتنه او څارنه
کول



د نویو ودانیو جوړول



د پوستو جوړول او
تحکیمات



د پروژو سروی دیزاین او
تطبیق

# د تعمیراتو لوی ریاست مهمې دندې

د تعیراتو لوی ریاست یو سکتوري ریاست دی  چې په لاندې ځانګو کې فعالیت کوي

په ساختماني سکټور کې، ساتنه او ملکیت

- 1. د تاسیساتو جوړول
- 2. د تاسیساتو ترمیم
- 3. د تاسیساتو پراختیا
- د تاسیساتو تحکیمات
- 5. د ښباک د اوبو رسول
- 6. قطعاتو او جزوتامونو ته برېښنا رسول
  1. **د سولر سیستم**
  2. **جنراتور**
  3. **قطعات او جزوتامونو ښاری برېښنا سره وصلول.**
- 7. د تاسیساتو ساتنه او څارنه
- ۸. د ملکیتونو د غصب مخنوی.
- ۹. د املاکو تثبیت کول.
- ۱۰. د ملکیتونو ثبتول
- ۱۱. پیرودل شوي، کرایه نیول شوی ملکیتونود اسنادو طی مراحل کول.
- ۱۲. د ملکیتونو د خپل سری غصب مخنیوی.

# د تدارکاتو ریاست کړنلاره




د داوطلبۍ پروسه اسانول او د
اکمالاتي توکو کیفیت تضمینول




د تدارکاتی اسنادو مرحلو په جریان
کې د تدارکاتو قانون او مقرراتو په پام
کی نیول




د تدارکاتي پلان
ترتیبول

## د تدارکاتو لوی ریاست مهمې دندې

- د تدارکاتو ریاست اصلي دندې د اړتیاو راټولول او توحیدول، د داوطلبۍ جلساتو دایرول، د قراردادیانو معرفي کول او د قراردادونو د تطبیق په ترڅ کې د تطبیق کوونکو او قرارداد کوونکو څانګو ترمنځ د ستونزو هوارول دي.
- د کورنیو چارو وزارت د کلني تدارکاتي پلان چمتو کول.
- د پروژو لپاره د معیاري شرط نامه ترتیب کول.
- د افغان اعلاناتو او د کورنیو چارو وزارت رسمی ویب پاڼې له لارې د پروژو اعلانول.
- د قراردادونو پرانستل ، ارزونه او د قرارداد تړون.